**رسنيزه اعلاميه**

**پروفيسور فيليپ الستون د نا قانونه او په خپل سر او لنډو اعدامونو په چارو کې د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو د شورا ځانګړى رپوټ ورکوونکى**

**کابل- د مى ۱۵، ۲۰۰۸**

ما د افغانستان د دولت په بلنه ۲ ورځې په دې هيواد کې تيرې کړې، او د هغې بشپړې همکارى له کبله چې له ما سره وشوه خپل ژور ممنونيت اظهاروم، ما له کابل، هملند، کندهار، هملند، کنړ، ننګرهار، جوزجان او پروان څخه ليدنه وکړه او له قربانيانو او شاهدانو، درى تنو واليانو، د کابين له خو وزيرانو، نړيوالو پوځي افسرانو، نړيوالې ټولنې، مدني ټولنې د افغانستان د بشر د حقونو له خپلوک کميسيون، ملګرو ملتونو او نورو کسانو سره مې ليدنه او ملاقاتونه وکړل.

بايد په څرګنده ووايم، چې زه د يو د ملګرو ملتونو د موسسې کارمند نه يم. يا په بله وينا، د ملګرو ملتونو د د رسمي پاليسى په پلى کولو کې د يوناما د دفتر، د ملګرو ملتونو د دارالانشاء يو موظف غړى نه يم، بلکې زه د ملګرو ملتونو په سيتم کې يو ځانګړى رول لوبوم. ما ته د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو د شورا له خوا د غير قانونى وژونو په اړوند ستونزو په اړند د يوه مفصل رپوټ وړاندې کولو او د غو وژونو د موثر مخنيو لپاره د وړانديزونو کولو دنده سپارل شوې ده. البته دا دولت، ملګرو ملتونو، نړيوالې ټولنې او مدني ټولنې وظيفه ده، چې دغو وړانديزونو ته لازمه پاملرنه وکړي.

افغانستان کې د وژنو ستونزه ډيره جدي موضوع ده. په تيرو څلورو مياشتو کې سلګونه ملکي وګړي وژل شوي. دغه کسان د راکټونو، چاوديدونکو توکو، د پوليسو فيرونو، حلالولو، او شخصي تاوتريخوالى له کبله مړه شوي دي. په مسوولو کسانو کې پوليس، مليشه يي ډلې، طالبان، دولت ضد عناصر او نړيوال ځواکونه شامل دي. د ټولو اړخونو له خوا د چټک عمل د نه شتون په صورت کې به په راتلونکو مياشتو او کلونو کې موږ د ډيرو نورو ملکيانو د نا قانونه وژونو شاهدان و اوسو. زما د رپوت پيغام دا دى چې د ډيرو دغو وژنو په اسانى سره مخنيوى کيداى شي.

په دغو لومړنيو مشاهداتو کې زه يو څو قدمونه په ګوته کوم چې بايد په چټکى سره پورته شي. زما په رورستى رپوټ کې به چې په څور راتلونکو مياشتو کې به خپور شي زه به نور زيات تفصيلات ورکړم.

افغانستان په يوه وسله واله شخړه کې راګير دى، خو د دې مانا دا نه ده چې د ملکيانو د ډيرو د مخنيوى وړ وژونو زغم بايد وشي. د دغو وژنو په وړاندې بې تفاوتى په حيرانتيا سره لوړه ده. په لنډه وينا: د پوليسو وژنې بايد بندي شي، په قانوني سيستم کې د ننه پراخ معافيت د وژنو لپاره بايد رد شي، د ښځو او نجونو وژنې بايد حتما بندې شي. نړيوال پوځي ځواکونه بايد د خپلو اعمالو حساب ورکول ډاډمن کړى او ملګري ملتونه بايد بشري حقونو ته په خپلو فعاليتونو کې ډير اهميت ورکړي.

**د نړيوالو پوځي ځواکونو له خوا د حساب ورکول او روڼوالی ډاډمنتوب**

په افغانستان کې نړیوال ځواکونه باید د حساب ورکولو او شفافیت اصول په جدي توګه په پام کې ونیسي، چې د هغو اهمیت ډېر ځلې په نورو موضوعګانو کې اعلانوي. هغوي باید هیڅ نوعه بې پروايي د دغو اصولو پابندۍ ته و نه لري. ما هیڅ داسې شواهد نه دي لیدلي چې نړیوالو پوځونو شتون په افغانستان کې د بشري حقونو او د بشر پالنې د قانون څخه په سرغړونو سره، پراخه قصدي وژنې کړې وي.

خو نړيوالو پوځي ځواکونو د افغانی پوځی ځواکونو سره په ګډ عملیاتو کې کابو ۲۰۰ تنه ملکیان په دا تیرو څلورو میاشتو کې وژلي دي. د دغو وژنو ډېرى د هوایي بمباریو او یا د هوایي ملاتړ په نتیجه کې وو.

په ډېرو قضیو کې دغه بریدونه ظاهرا قانوني وي که څه هم د تراژیدۍ وړ وي. د نړیوالو ځواکونو وژنې چې اکثرا د نړیوالو بشري قوانینو او د بشر پالنې تر قانون لاندې موضوعات رامنځ ته کوي، هغه وژنې دي چې د شپې په ناڅاپي بریدونو کې او په هغو کې واقع کیږي، چې کله عسکر په موټرونو او یا لارویانو باندې (په غلطه توګه) د حمله کوونکو شک کوي او ډزې پرې کوي.

خو د نړیوالو ځواکونو غبرګون ډېر جدیت او قصد سره یوځای کوي او د تطبیق وړ قانون قانون څخه د پیروۍ په اړوند په حیرانتیا سره د ابهام او نه قناعت کولو پایله منځ ته راوړي. په یو څو پیښو کې کیدای شي دغه نا څرګندوالی شاید قصدي وي. د مثال په توګه یو شمیر بریدونه شوي دي چې د هغو لپاره هیڅ یو دولتي یا پوځي قوماندان د مسوولیت منلو ته تیار نه دی. کله چې په کندهار کې وم ما د یو برید په باره کې څیړنه وکړه. د ۲۰۰۸ کال په جنورۍ کې په کندهار کې په یو برید کې د نړیوالو ځواکونو تر مشرتابه لاندې دوه ورونه ووژل شوي وه. په قربانیانو باندی حتی د دولتی مسوولینو له خوا په پراخه توګه اعتراف کیږي چې هغوي له طالبانو سره هیڅ ډول اړیکه نه درلوده او د هغوي د مړینې حالت هم شکمن ښکاري. په ځینو برخو کې دغه نا روڼتیا قصدي ده. د بیلګې په ډول ګڼ شمیر بریدونه ترسره شوي دي چې هیڅ دولت یا نظامي قومندان د هغې د مسوولیت منلو ته چمتو نه دی. کله چې په کندهار کې وم ما د یو برید په باره کې څیړنه وکړه. د ۲۰۰۸ کال په جنورۍ کې په کندهار کې په یو برید کې د نړیوالو ځواکونو تر مشرتابه لاندې دوه ورونه ووژل شوي وه.

ما همدارنګه په کندهار او ننګرهار دواړو ولایتونو کې د هغو حملو پلټنه وکړه چې له نړیوالو ځواکونو سره افغاني ځواکونه هم ملګري وه، د نړیوالو ځواکونو هویت لا اوس هم په بشپړه توګه معلوم نه دی. په داسې حال کې کله چې ما د باور وړ معلومات په لاس راوړل، چې افغاني پوځونه د ننګرهار په قضیه کې د شاهین واحد وو چې د نړیوالو ځواکونو سره یې کار کاوه، او د کندهار په قضیه کې هغه افغانان وه چې د نړیوالو پوځونو سره یې د جیکو د پوځي هډې څخه د باندې کار کاوه، ما هیڅ ډول پریکنده ځواب تر لاسه نه کړ چې څرنګه د کوم یو د قوماندې سره یې سمون درلود. زما د بحثونو په اساس هیڅ شک نشته چې باور پرې وشي، چې لږ تر لږه د ځینې دغو واحدونو مشري د هغو کسانو له خوا کیږي چې نړیوال استخباراتي خدمتونو پورې تړلي

د حساب ورکولو او شفافیت اکثره ناکامی زیاتره بې خونده خبرې دي، خو دغه عادي ناکامی ځورونکي هم دي. له خپلوانو او شاهدانو سره د خبرو په وخت کې ما به وپوښتل چې کومو نړیوالو ځواکونو دغه وژنه ترسره کړه، حتی هغو کسانو چې کوښښ کاوو په پي آر تي او نورو پوځي هڅو کې تعقیب کړي د دغې پوښتنې په ځواب باندې نه پوهیدل. له نړیوالو ځواکونو څخه د شفافیت تر لاسه کول یوې معمایی ته د ورننوتلو په شان دي. ما دغه ګډه وډه لاره په خپله تجربه کړه، د ایساف یوه قوماندان توضیح کړه چې، په داسې حال کې چې دوي کولای شي دا تائید کړي چې یو ځانګړی عملیات د ایساف د عادي عسکرو له خوا په مخ بول شوي وه او بیا یې واضح کړه چې په کومې ډلې پورې هغوی اړه درلوده، نو دا به یې اړ وي چې دغه پیښه د قوماندې په سلسله کې تیره کړي، ترڅو دا څرګنده شي چې آیا دغه عملیات د ایساف د خاصو پوځونو له خوا سرته رسیدلي وه او که نه او دا چې زه اړ یم چې هغه قوماندان وپوښتم چې د پایښت لرونکې آزادی عملیات یې پر غاړه درلودل، چې دا تثبیت کړي چې ایا کوم ایتلافي ځواکونه ددې مسوول وو.

دغه حالت کله چې د انفرادي سرتیرو حساب ورکولو ته راشي لا هم پسې بدتره کیږي. لکه چې ښه معلومه ده، د هغو جرمونو د تحقیقاتو مسوولیت چې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو له خوا ترسره کیږي د هغوی په استوونکو هیوادونو پورې اړه لري. که چیرې یو استرالیایي نا قانونه وژنه وکړي د دغې پیښې د تحقیق او تعقیب مسوولیت د استرالیا د دولت پر غاړه دی، که یو نارویجی یوه نا قانونه وژنه وکړي د تحقیق او تعقیب مسوولیت یې د ناروې د دولت پر غاړه دی. کوم چې لږ څرګند دی، هغه دا دی چې هیڅوک په افغانستان کې د تحقیقاتو او تعقیبونو نتیجه نه تعقیبوي.

ما په جلال آباد کې د له یوه عیني شاهد سره ملاقات درلود چې د هغه د کورنۍ غړي د ۲۰۰۷ د مارچ په هغه ښه معلومه پیښه کې له لاسه ورکړي وو، چې عسکرو په هغې کې د یوه ځانمرګي برید په مقابل کې چې د هغوي په کاروان شوي و یو شمیر خلک په ۲۰ کیلو متره سړک د پاسه په ګولیو وویشتل. په حرانتیا سره دغه سړی د هغو مسوولو سرتیرو په باره کې چې د هغوي خپل رالیږدونکی هیواد له خوا محاکمه شوي وو، د پراخ نظر خاوند و، خو نوموړی له دې کبله غصه و چې ده ته هیڅ ډول معلومات نه و ورکړل شوي چې آیا دغه سرتیری کومي پوځي محاکمې ته حاضر شوي وو او آیا چې هغوي محکوم شوي وو او که په خوشي شوي وي، او آیا چې دغه محاکمه به لا جارې وي او که یه. بیا نو ما محلي قوماندان ولید او هغه هم نه پوهیده، هغه توضیح کړه چې دده واحد افغانستان ته راغلي و او دا چې د تیرو پیښو حساب ورکول د اړونده واحد مسوولیت و او دا چې نوموړی واحد له افغانستان څخه د تلو په وخت کې ټولې اړوندې دوسیې له ځانه سره وړي وي. د خپل اعتبار لپاره نوموړی قوماندان وویل چې دا یوه ستونزه ده. له یوه بل سیمه ییز قوماندان سره

کوم نړیوال ځواکونه چې په افغانستان کې عملیات کوي دا یې مسوولیت دی چې ددې ډاډ ورکړي چې د حساب ورکولو یو داسې منسجم او واحد سیستم شته چې افغانان او نور یې تعقیبولای شي. که هر څومره دغه سیستم له د ننه څخه ګډوډي ولري، خامخا به د نا چارو ملي پوځې عدالت له ځوګونه ماموریتونو څخه جوړ شوی وی، دا بنسټیزه خبره ده، چې دغه بیلا بیلې ټوټې یوه همغږې مجموه منځ ته راوړي. اغیزمن شوي کسان باید وکولای شي چې یوې پوځې هدې ته ورشي چې تر کوم ماموریت لاندې کار کوي او د دې ډول پوښتنو لپاره چټک او مستقیم ځوابونه تر لاسه کړي لکه: آیا کوم نړیوال پوځونه وو، چې زما په کور یې تیره شپه چاپه ووهله؟ او یا دا چې زه باور لرم چې زما ورور د نړیوالو پوځونو یوه سرتیری په نا قانونه ډول و واژه، آیا هغه پوځې محکمې ته ورغلې دی؟

**د پولیسو اصلاحات**

د هیواد په خورا ډیرو برخو کې پولیسان د دولت مخ دی، په واقعیت کې په یو مهم شمیر ولسوالیو کې یوازینې دولتي مسوولین چې خلک یې ویني، همد پولیس دي. د یو چا لپاره چې په دا ډول سیمه کې اوسیږي، د دولیت مشروعیت کابو په بشپړه توګه د پولیسو په سلوک او چلند پورې اړه لري. که هغوي نظم او قانون د ټولو لپاهر وساتي، حکومت به مشروعیت ولري. که چیرې هغوي پیسې واخلي، ویره واچوي او وژني، حکومت به هیڅ دول مشروعیت نه لري. خورا ډیر ځلی پولیس په رښتیا سره د ټولنې استازیتوب نه کوي. هغوي تر ډیره حده د یوې قبیلې له غړیو څخه او یا د یوه قوماندان له پلویانو او پیروانو څخه نیول کیږي. هغوي د قانون او نظم د چلوونکو په توګه کار نه کوي، بلکې د یوې ځانګړې قبیلې یا قوم او قوماندان د ګټو د ساتوونکو په حیث کار کوي.

زما د سفر پر مهال، دغه ستونزې په خاص ډول په جنوب کې لیدل کیدې. کله چې ما د شخړې ځپلو سیمو له مشرانو سره خبرې وکړي، ما ته په وار وار وویل شو، چې د پولیسو ناوړه کارونو خلک دې ته هڅول چې د طالبانو ملاتړ وکړي. د دولت یوه مشر مسوول هغه ګواښونه لست کړل چې د نوموړې په ولایت کې هم د طالبانو له خوا کیدل او هم د دولت د امنیتي ځواکونو په منځ کې له جنایت کارو عناصرو له خوا. یوه نړیوال پوځې قوماندان په داګه وویل، د ده د عملیاتو په ساحه کې پولیس فاسد او تیر کوونکي دی او دا چې خلک هیڅ تجربه نلري چې پولیس دې خدمتونه کوي، بلکې یوازې د دې تجربه لري چې د هغوي مالونه او پیسې ضبطوي.

خو دغه واقعیتونه په پوره اندازه نه د حکومت له خوا پیژندل شوي دي او نه د نړیوالې ټولنې له خوا. یوه شرحه باید بس وي، ما یوه تازه پیښه وڅیړله چې په هغې کې په پولیسو باندې تور لګول شوي دی، چې د یوې

دولت او نړیوالې ټولنې په پرله پسې توګه هغه چانسونه له لاسه وکړي دي، چې د دولت له امنیتي ځواکونو او له واک لرونکو کړیو څخه فاسد او ناوړه کاروونکی فاراد ګوښه کړي. هغه د تنخوا او ربتي پروګرام چې داسې طرحه شوي افغاني ملي پولیس له یوه داسې ځواک څخه چې له ملیشو او محلي اکتورانو څخه ډک او په یوه مسلکي ملي ځارونديي ځواک بدل کړي یو شمیر انکار نه منونکي برياوې درلودې، خو د وخت په تیریدو سره د دغه پروګرام پلی کیدل په یوه زړه نا زړه هڅې بدله شوه. په ورته توګه، دا یوه رسوایي ده، چې هغه کاندیدان چې له نا قانونه وسله والو ډلو سره یې اړیکې وي د ۲۰۰۵ په ټاکنو کې ناوړه و نه بلل شول سره له دې چې د ټاکنو یوه قانون همدغه غوښتنه کوله.

د دغو ناکامیو یو کلیدي دلیل هغه پاملرنه ده چې د دولتی لوړ پوړی او د نړیوالې ټولنې مسولین یې ثبات او امنیت ته ورکوي نه بشري حقونو ته. دغه په اصطلاح د سپکونو او درنولو کار کله کله په دیپلوماتکي ډول ویل کیږي. خو بیا هم دا کار روان دی. دا عقیده، چې کیدای شي بشري حقونه د ثبات او امنیت په بدله کې واخیستل شي، په پراخ ډول شتون لري. دا په خواشینۍ سره بیځایه کول دي. کوم محرک چې ما په تکرار سره ولیدل د یوه مسوول له خوا په ښه توګه درک شوي و، چې نوموړی په ډاګه را ته وویل، د هغه په ساحه کې د دولیت ضد عناصرو، لږ تر لږه نیمایي کسان د ده د خلف مسول شخص د ځورونې، ناوړه کارولو او غلطو ستراتیژۍ ګانو له کبله له وسله والو طالبانو سره یو ځای شوي دي.

په داسې حال کې، چې کیدای شي دا یوه د خپلې خوښې ارزونه وي، خو دا نوموړی خبره لږ ربښتیا نه شي بللی. موږ اړتیا لرو دا درک کړو د دې لپاره چې امنیت اوثبات تامین کړو اساسي بشري حقونو ته د دولت امنیتي ځواکونو له خوا درناوي کول تضمین شي.

خو د پالیسۍ لپاره دا څه مانا لري، البته بې شماره پراختیایي پلانونه، سکتوري ستراتیژي ګانې، روزنیز پروګرامونه او داسې نور شیان شتون لري چې حکومت د امنیتي ځواکونه هره برخه په کې راځي، خو زه باور لرم چې یو څو کلیدي ملحوظاتو په پام کې نیولو ته اړتیا ده.

لومړي، افغانستان یو داسې ځارونديي او پولیسي ځواک ته اړتیا لري چې هغه وکولای شي دواړه هم د قانون جاري کولو او نیمه پوځي رول ولوبوي. د هغو کسانو تر منځ چې د ځارونديي ځواک دوه بیلا بیلو نمونو ته ترجیح ورکوي یوه ښه پیژندل شوې نقشه موجوده ده. ځینې یوه ماډل ته توجه کوي، چې هغه داسې

دوهم، یوازې روزنه به د افغانستان څارندوي ځواک و نه ټاکي، روزنه مهمه ده خو موږ په ښه توګه پوهیږو هغه خلک چې د خپلو دوښمنانو په خپل سر اعدامولو کې یوه ګټه لري یوازې له دې خاطره دا کار نه بندوي، چې هغوي د بشري حقونو نړیواله اعلامیه لوستلي ده او یا یې د یو ځواک د لوړولو پروتوکول لاربښوونه تر لاسه کړې ده. یو له بد بینۍ ډک مګر نه په بشپړ توګه نا سم د روزنې نظر د یو معلومات درلودونکی ځواب ورکوونکی له خوا وویل شو، چې له هغه څخه پوښتنه وشوه چې، ایا کله چې د دوي د روزنې پروګرام د متمرکزې حوزوي پراختیا (FDD) تر نوم لاندې پای ته ورسیږي، دی به له محلي پولیسو څخه څه توقع لري. نوموړي په نا خوښۍ سره د کنایه په توګه وویل چې دغه پولیس به په دې وتوانیږي چې په لا اغیزمنه توګه پیسې واخلي.

دغه د ایف ډی ډی پروګرام په یوه تمه نه لرونکي توګه د واقعي اصلاحاتو په لور لاره په ګوته کړې ده. دا پروګرام داسې کار کوي چې د ټولې ولسوالۍ پولیسي ځواک یوې بلې ولسوالۍ ته لیږدوي، چې تشدیدي روزنه تر لاسه کړي. په داسې حال کې چې هغوي روزل کیږي د افغان ملي نظم پولیس (ANCOP) حوزې ته ور داخلیږي، چې و یې څاري. د هغوي په عمومي توګه هر کلی کیږي، ولې؟ دا ځواب امکان لري ترې یوې برخې د هغوي په روزنه کې وي، خو مهم لامل داسې ښکاري، هغه دا دي چې د ANCOP پولیس له محلي قبیلو، قوماندانانو یا جنګ سالارانو سره هیڅ ډول اړیکه نه لري.

یو ډول احتمالی تګلارې هم شته چې هغه له ډیر هر اړخیزې چې د تنخوا او د رتبې د ډیرو هر اړخیزې هڅې څخه نیولې تر یو ډول ملي جاندرم جوړولو پورې غځیږي. خو هر ډول جدي هڅه چې په ملي پولیسو کې اصلاحات راولي باید د یو داسې څارندوي ځواک په جوړولو باندې تمرکز وکړي چې هغه د ټولنو د ګټو استازیتوب کوي نه د ځینو خاصو قبیلو، جنګ سالارانو او سیاستوالو د تنګ نظر له لیوالتیاوو څخه.

دریم، دولت باید د نورو ملیشو قانوني کول بند کړي، داسې معلومیږي چې دا اوسنی له منځه وړل شوي " کومکي پولیسو " پروګرام د هغه څه نه لیږ څه زیات وو چې موجوده ملیشو ته یې د دولت یونیفورم ورکول. لاکن دا څرګنده نه ده چې د دغې تجربې څخه به واقعي درسونه زده کړای شوي وي. یو لوړ پوړی دولتی چارواکي ما ته وویل چې د محلي حکومت کولو خپلواکي اداره "د ټولنې پراخ پروګرام " هدف دا دی چې محلي ټولنه د خپل ځان د ساتنې لپاره په خوځښت راولي. هغه توضیح کړه چې هیڅ کله به په کافی

"د ټولني پراخ پروګرام " کې دا شامله ده چې د یوې محلي قبیلي له مشر څخه و غوښتل شي چې دا کار وکړي. نوموړی د یوې اړخیزې ګټې په توګه وویل چې د دولت او د ملیشو تر منځ د داسي پلونو جوړول به د دولت ضد عناصرو د داخلیدلو د بهتر شوو نا چاودیدونکو موادو د ځای او داسي نورو په باره کي معلومات ورکړي. خو دغه تګلاره داسي معلومیږي چې یوازې به محلي خلکو ته دا خطر زیات کړي چې په ټولنه کې د ننه د خپلي خوښي ډلي پیاوړې کړي، شوکې وکړي، ویروني واچوي او خپل مخالفین ووژني.

څلورم، پولیس باید د ښو زده کړو او عالی تجهیزاتو څخه برخمن وي تر څو وکولای شی د نه زغم وړ مرګ ژوبله هغه کچه را ټیټه کړي کوم چې د ملی پوځ د تلفاتو په پرتله پنځه ځله لوړه ده.

په پاي کې د هغه وژونو پر ستونزه چې د پولیس او حکومتی نورو مسلح کسانو د فعالیت په دوران کې وژل شوي، سترګی پټی شویدی. دغه کار ته باید د پاي ټکي کیښودل شی. که څه هم د دغو نا قانونو وژنو د شمیري په هکله دقیق معلومات نشته، خو کافی مشخصی دوسیی موجودی دي چې مجموعی شمیري ډیر لوړ ښیی. داسی یو سیستم ته ډیره اړتیا ده تر څو دا تضمین کړي چې، کله چې پولیس او یا د هغوي سیاسی رهبران په څو وژنو تورن کیږي، خپلواکه څیړنه تر سره شی. په شبرغان کې د ۲۰۰۷ کال د می د میاشتی د ۲۸ نیټی د لاریون په پایله کې د ۹ تنو وژل کیدل او د ۴۲ تنو غیر پوځی کسانو ټپی کیدل، یو ډیر ښه او ژوندي مثال دي. ملی او ځایی سیاسی ګټی داسی طرحه شوي وو چې باید موثری څیړنی تر سره نه شی. خو کوم وخت چې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون یو مفصل خو دردونکي رپوټ یي خپور کړ، د هغه په مقابل کې غبرګون بی توجهی وه او یوازی بل جلا تحقیقات یي لاری ته واچول. د کار تخنیک دا ډول وو چې باید وخت تیر شی تر څو شواهد له منځه ولاړ شی او د هغه پر ځای نوي سیاسی اندیښنی صحنی ته راشی او دا موضوع په آرامی سره په دوسیه کې ثبت شی. د وژل شوو او ټپی شوو کسانو د کورنیو ادعا ګانو او ګټو باندي سترګی پټی شوي.

ځایی بی پري پولیس په یوازی توب سره د تحقیقاتو جوګه نه دي. د دغی موخی لپاره د ملی پولیسو په چوکاټ کې د څیړنی یو کاري ډلی ته اړتیا شته. د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون د څیړنی صلاحیت دی باید پیاوړی شی او حکومتی ملی او ځایی ادارو ته یوازی ۹۰ ورځی وخت ورکړ شی تر څو د کمیسیون د موندنو په مقابل کې خپل مفصل ځواب وړاندي کړي.

**ښځې**

په عدلی جزایي سیستم کې د ښځو لپاره ستونزې په ښکاره ډول ډیرې شوې دي. په کندهار کې د ماین پاکولو د دفتر په یوه خونه کې ښځې راټولي شوې وي. چې د یوې کارکوونکي څخه وغوښتل شو، چې په کور کې د ناسالم سلوک او یا هم د ژوند د ویرې له وجهي چا ته شکایت وکړي. په اطاق کې ټول په خانده شول. هغوي وویل چې چې د کور نه د شکایت لپاره وتل به هم ستونزمن وي. او که له کوره و وځي نو په دې اندازه به شرمنده او خجالته شي چې و به نه کړای شي خپله اندیښنه جوته کړي. که چیرې هغوي وغواړي چې پولیس

په دې وروستيو وختونو کې په جلال آباد او پروان کې د ښځو د ارجاع/استولو مرکزونه جوړ شوي دي. چې دا په ريښتوني توګه يو نوښت پيژندل کيږي. دولت او نړيواله ټولنه د دغو نوښتونو څخه ټينګ ملاتړ کوي. د جرمونو تعقيب د يو ځواکمن دفتر له خوا چې وکړای شي د ښځينه قربانيانو د دوسيو لپاره ملاتړ شي به په دې لار کې مرستندويه وي.

همدارنګه ښځې د طالبانو د حکومت ضد عناصرو له خوا د يو لړ دلايلو له امله د مرګ تر ګواښ لاندې راغلي دي. په دې دلايلو کې ځيني د ملي پوليسو او ملي اردو په قطارونو کې د هغوي د زامنو کار کول دي. او يا هم دا چې هغوي د ښځو د چارو په رياستونو کې کار کوي. او که هغوي د بنسټيزو حقونو لپاره ملاتړ وغواړي. نو په دې توګه هغوي د مرګ تر ګواښ لاندې راځي. ځينو ښځو همدارنګه وويل چې د حکومتي مقاماتو له خوا په دې وجه چې د نظر ځرګندونه يې کړې دي تر تهديد لاندې راځي.

**ښځې او وسله واله جګړه**

ما د هغو ښځو ځرګندوني واوريدلې چې په جاری جګړه کې پلارونه، ميړونه او ورونه له لاسه ورکړې وو. دا چې خلک په هوايي بمباريو کې وژل شوي دي او يا د طالبانو او د نظامي قطارونو له خوا په قتل رسيدلي، خو د دې پايله د ښځو لپاره ډيره دردناکه ده. ځينو دغو ښځو د افغانستان له دولت او يا له ايساف له خوا د تلفاتو په بدله کې مالي مرستې تر لاسه کړې دي خو ډيری يې د دغو امکاناتو څخه هيڅ خبر هم نه لری. که چيرې هغوي نيکمرغه وي، نو د کورنۍ تر ملاتړ لاندې به راشي. ځيني ښځې د کار په ځواک کې شاملې شوي او په ډيره لږه مزدورۍ کار کوي. هغوي چې پوهې او کار ته لاس رسيدنه نه لري اړې دي چې په کوڅو کې خيرات وغواړي، څو خپلو ماشومانو ته خواړه برابر کړي.

**ناموسي وژنې**

په جلال آباد کې ما دې هلک او جينۍ د کورنيو سره چې د واده تر مخه د جنسي اړيکو په تور وژل شوي وو خبرې وکړې. هلک او نجۍ د هغوي له ترونو له خو د شپې ډوډۍ ته ور وبلل شوه، کله چې بيده شوه ترونو ور باندې ډزې وکړې او دواړه يې و وژل. د هلک مړی پلار ته وسپارل شو او نجلۍ مړی د جنازې د لمانځه پرته خښه کړای شوه. د هغوي د کورنۍ هيڅ غړي پوليسو ته شکايت و نه کړ. پوليسو د دې وژنو په اړه خبر درلود خو موضوع يې و نه څيړله. داسې پيښې ډيرې عامې دي. په کندهار کې زياترو ښځو ځرګنده کړه، چې د ناموس د ساتنې تر نامه لاندې د هغوي په ګاونډ کې وژنې کيږي، خو په دې اړه لږ رپوټ ورکول کيږي او ډير کم موضوع تر تعقيب لاندې راځي.

افغاني ټولنه دې ته اړه ده چې دې پېښو ته واقعا د ناموس د خلاف د عمل په توګه وکتل شي. هغوي کورنۍ د قتل او وژنې د لارې بې پته کوي. د هر ډول وژنې په توګه داسې قضيې باید د پولیسو له خوا وڅېړل شي او څارنوالۍ د دفتر له خوا مجرمین تر تعقیب لاندې راشي او محکمې سزا ورکړي.

**د اعدامونو لپاره د قانوني مهلت تحمیل**

په دې وروستیو وختو کې ستړې محکمې نږدې د سلو کسانو محکومینو د اعدام د سزا دوسیې ولسمشر ته وړاندې کړې. البته د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ او د نړیوالو معیارونو سره سم د دغو کسانو په اعدام محکومیدل د ولسمشر د تصویب پرته نه شي پلي کیدلی. نو ځکه قوي دلیلونه شته چې ولسمشر د دې فرصت څخه په ګټه پورته کولو سره د دغو اعدامونو په اړه قانوني ځنډ را ولي.

البته په دې اړه پرېکړه یو پراخ بحث ته داخلیدل نه غواړي، چې آیا افغانستان باید د مرګ سزا له منځه یوسي. د جنایي عدالت نظام ډېر نیمګړی دی. پولیس، څارنوالان او قاضیان چې دغه سیستم جوړوي په دې باوري دي چې اداري فساد او بې کیفیتي ډېره پراخه او عامه ده، چې حتی ځیني وختونه هغوي په خپلو اړوندو موسسو کې دغه موارد نه مني او زیات وخت هغو غټو ناکامیو ته چې د نظام په نورو برخو کې شته اشاره کوي. نږدې د ټولو کسانو سره چې مې خبرې کړې په دې موافق وو چې د جنایي عدالت سیستم د حقوقو د ساتنې پروسې لپاره ځواکمنتیا نه لري. بدایه او د ښو اړیکو خاوندان د درندو سزاګانو څخه تښتي، په داسې حال کې چې ځینو با خبره مرکه کوونکو دا فکر نه کولو چې واقعا کوم بې ګناه کس په مرګ محکوم شوی وي. نور شمیر په دې نظر وو چې ځینې بې ګناه وګړي د دغو کسانو تر منځ د مرګ په انتظار دي، نو ځکه د اعدامونو پلی کول د نړیوالو معیارونو سره په ښکاره تناقض او توپیر کې واقع دي.

**د جزایی عدالت سیسیتم او فساد**

معافیت د جزایی عدلی سیستم د پاتی راتلو په صورت کې منځته راځی. ما ډېر شکایتونه تر لاسه کړې چې ډېری وژنی د پولیسو له خوا نه دي وڅېړل شوي. دا چې څارنوالان اکثره وخت مظنون قاتلان تر عدلی تعقیب لاندی نه نیسی او همدارنګه د اداري فساد موجودیت په وجه قضایه قوه ډېری کسان معاف کوي. په پایله کې دا هر څه د دې نظام څخه سر چینه اخلي چې د شکمنو وژونکو لپاره د نه منلو وړ معافیت برابروي. له هغه ځایه چې په قضایي نظام کې د سمون راوړل ضروري ګڼل کیږي. خو داسې په نظر راځي چې اداري فساد هغه عامل دی چې زیاتې ستونزې یې رامنځ ته کړې دي.

اداري فساد هر اخیز دی، دغه ننګونه، نا خوښي او نا هیلي منځ ته راوړي او د حکومت ضد فعالیتونه زیاتوي. شته فساد په یوه شپه کې له منځه نه ځي، خو د یو فعال او با اعتباره میکانیزم جوړول چې د شاهدانو د احضار کولو او د قانوني تعقیبت صلاحیت ولري یو د مهمو اړتیاوو څخه ده. تر ټولو زیات دغه میکانیزم باید داسې ترتیب شي چې د فاسدو سیاستمدارانو او هغوي چې په حکومت کې شامل دي او غواړي چې خپل

**طالبان او نور دولتی ضد عناصر**

په تیرو ځلورو میاشتو کې طالبانو او نور دولتی ضد عناصرو کابو ۳۰۰ تنه ملکی کسان وژلی. نږدې درې ځلورمه برخه د دغو خلکو په ځان وژونکو بریدونو کې وژل شوي. که څه هم په ظاهر کې د دغو بریدونو هدف مشروع نظامی موخی دی، له دی سره سره د دغو بریدونو زیاتره برخې غیر قانونی دي. ځکه چې دا ښکاره ده چې د دغسی بریدونو په نتیجه کې د نظامیانو پر ځای غیر پوځی کسان وژل کیږي.

د نورو غیر نظامیانو زیاتره برخه چې د طالبانو له خوا وژل کیږی، هدف نیولی شوی قتلونه دي. که څه هم دغه وژنی د شمیری له مخی یو څو دي د د وګړو د ډاولو او تر فشار لاندی راوستلو په وجه د پام وړ دي. اکثره وخت د یو ښوونکی وژنه د دی لامل ګرځی چې د یوې سیمی ټول ښوونځې وتړل شي، د یو حکومتی کارمند وژنه نور ډیر کسان ډاروي او د یوی غیری دولتی موسسی د کارکوونکی وژنه ولسوالی ته د بشر دوستانه چاری مخه نیسی. دغه ډول وژنی په بشپړ ډول نا مشروع دي او پالیی ډیری دراماتیکی دی. طالبان همدارنګه د غیری ملکی کسانو په وژنه کې پراخه لاس لري. د بیلګی په ډول کله چې د جګړی پر مهال د یو پوځی هدف ګرځول قانونی دي، خو دا د بشرپالین قانون خلاف عمل دی چې هغه وتښتول شی او بیا ووژل شی.

په عمومی ډول، کله چی زه هیوادونو ته د حقیقت موندنی ماموریتونو ته ځم، د مخالفی وسله والی ډلی سره خبره کوم. د کتنی په موده کی زه د طالبانو یا بلی وسله والی ډلی له هیڅ یو رسمی استازی سره می خبره نه دی کړی. په پیل کی می دا احساس کاوه چی امنیتی ستونزی چی د وسله والی ډلی د فعالیتونو زیږنده ده د دغو خبرو اترو زمینه نا ممکنه کوی. په همدې ډول زه ډیر ښه پوه وم چې ځینو فعالینو د دغه کار د سیاسی استنباط په هکله یو څه ملحوظات درلودل. په پای کې ما احساس وکړ چې زه بل انتخاب نه لرم پرته له دی چې د دغو ملحوظاتو سره ځان عیار کړم، سر بیره پر دې چې ماته واقعی او ریښتونی امکانات برابر شوي وو. په ریښتیا، د دغه کار د سیاسی پایلی په اوړند می اندیښنی درلودی. سره د دی د افغانستان د سفر د دوی هفتی څخه وروسته دی نتیجی ته رسیدلی یم چی طالبانو سره مذاکره نه کول یوه اشتباه وه. له دوی سره د مذاکره کولو اهمیت څرګند دی. په جنوب کی یو مخور مشر وویل چی د نړیوالی استازی د کتنی یوه نقیصه دا ده چی دوی یوازی له یوی پلاوی سره خبره کوی. زما د دغه پریکړی څخه یو نړیوال قوماندان خپل حیرانتیا څرګند کړ. زما نظر دا دی چی د دغو منابعو له خوا د راکړ شوی معلوماتو په پام کی نیولو سره موږ کولای شو د طالبانو او نوری وسله والی ډلی د سرغړونو څخه باخبر شو. د راتلونکی په پام کی نیولو، زه دا وړاندیز کوی چی په افغانستان کی د بشری حقونو ډلی او بین الحکومتی ارګانونه د طالبانو او نوری وسله

والي ډلې سره اړيکې ټينګې کړي. زه په دغه اندېښنې اعتراف کوم چې دا اړيکې کيداي شي د دغې ډلې د "مشروعيت" باعث وګرځي. زه نه شم کولای په دې ټينګار وکړم چې د وسله والي ډلې سره د مذاکره کولو پريکړه چې هدف يې دا وي چې د خاصو پېښو په اړه د دوی نظريې واخلې، د دوی د عملونو څخه نيوکه وکړي او د دوی څخه غوښتنه وکړي چې بشري حقونه او بشر اوستانه قوانين رعايت وکړي، د دغې ډلې د "مشروعيت" سبب وګرځي. مهمه ټکه دا ده چې نړيواله ټولنه د بشري حقونو په اړوند داسې غوښتنې لري چې طالبان او نوري دسله والي ډلې مسؤول ګڼل کيږي. نړيواله ټولنه د طالبانو او نوري وسله والي ډلې د ځان وژنې بريدونو، د ښوونکو د وژنې او داسې عملونو غندنه کوي کوم چې د بنسټيزې بشري حقونو په ضد دي. د دغو غوښتنو هدف دا دی چې د عامو خلکو ساتنه وشي. نو ځکه ........

**لومړنی سپارښتنی**

په افغانستان کی د غير قانوني اعدامونو څخه د مخنيوی لپاره ځو لومړنی سپارښتنی لرم. سره د دی چې زما ماموريت او دغه اعلاميه د دغې پروسې لومړنی ګام دی خو بيا هم زه د دولت او ټولو فعالينو سره د يوی دوامداری خبری اتری انيظار لرم.

• د پوليسو له خوا د غيرقانوني وژنو مخنيوی ته بايد لومړيتوب ورکړ شی. نو ځکه بايد هڅه وشي تر څو په پوليس کی اصلاحات راوړل شی.

- سره دی چې د بشري حقونو روزنه اهميت لری خو بيا هم نه شی کولای د دغو سرغړونو څخه مخنيوی وکړی چې د پوليسو د افسرانو، مشخصو قومونو ، قوماندانانو او سياستمدارانو د اړيکو څخه منځ راځی. د يو ريښتنی ملی پوليس ځواک د منځ ته راوړلو په مقصد چې د ټولو خلکو ساتنه وکړی بايد دغه اړيکی مات شی.
- له داسی هڅی څخه بايد مخنيوی وشی چې د پوليسو د تقويه کولو لپاره محلی مليشی رامنځ ته کوی او يا هغوی ته د مشروعيت بڼه ورکوی.
- د دی په هکله چې ايا د پوليس ځواک "د قانون نافذ کوونکی" او يا "شبه نظامی" دنده تر سره کوی، اغيزمن نه دی. په دغه مرحله کی پوليس بايد په څرګند ډول د دواړی دندی بر سره کړی او د دغو دندو سره سم روزنه ووينی او تشکيل يی جوړ شی.
- د پوليس له خوا وژنه بايد پای ته ورسيږی. د دغو قضيو په باب د حکومت اوږدمهالی پلټنی د دی باعث ګرځی چې قضيه هيره او معافيت تقويه شی. د ملی پوليس د پلټنی کاری ډلی ته اړتيا دی، د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کميسيون د پلټنی څانګه بايد نقويه شی او حکومت بايد د يو ټاکل شوی وخت په موده کی خپلی موندنی ته ځواب ووايی.

• حکومت بايد د اعدام لپاره يو قانونی موده وټاکی. په پراخه توګه په دی توافق شوی چې اوس مهال عدلی جزايی نظام د عادلانه پروسی د رعايت کولو او ساتنی توان نلری.

• اوس مهال باید دا هڅه وشی تر څو د پولیسو په تحقیقاتو، قانونی تعقیب او قضایی نظام کی اصلاح راوړول شی. کله چی د دغی اداری ظرفیت لوړ شو، د افغانستان خلک کولای شی چی د عدلی نظام په چوکاټ کی د اعدام د جزا په اړه بحث وکړی.

• د ټول نفوس د نیمایی برخی (ښځی) وضعیت د دغو وژنو په هکله په پام کی نه نیول کیږی. دوی ته باید د دی زمینه برابره شی تر څو عدلی جزایی نظام ته لاس رسی پیدا کړی، داسی هڅی او نوښتونه لکه د ښځو د مراجعی مرکزونه تشویق او د ښځینه قربانیانی لپاره ځانگړی ځانگی باید د لوی څارنوالی له خوا ایجاد شی.

• زیاته پاملرنه باید هغی نیستمنی ښځی ته وشی چی اکثره یی خپل نارینه خپلوان له لاسه ورکړی او ناموسی قتلونه چی په کثرت سره ته رسیږی باید د یو قتل په څیر وگڼل شی چی په ریښتیا سره هم یو قتل دی.

• د فساد پر ضد یوه خپلواکه اداره چی لازم صلاحیتونه او منابع ولری باید رامنځ ته شی تر څو د حکومت او قضایی نظام په ټولو سطحو کی مهمی قضیی تر تعقیب لاندی ونیسی.

• په افغانستان کی میشته نړیوال ځواکونه باید د حساب ورکولو او شفافیت اصول رعایت کړی. د نورو شیانو په شمول دوی باید د دی ډاډ راکړی چی د کړکیچن څو اړخیز ماموریتونو او یو اغیزمن عدلی جزایی نظام د نشتوالی سره سره هر زیانمن کس کولای شی چی په هره نظامی اډه کی ولاړ شی او د دی په هکله ځواب تر لاسه کړی چی څوک د یو خاص عملیات مسؤولیت په غاړه درلود او د هر ډول پلټنی او تعقیبونی د څرنگوالی په هکله معلومات حاصل کړی.

• باید جدی کوښښ وشی تر څو طالبان او نوری وسله والی ډلی په دی وهڅول شی تر څو بشری حقونه او بشر دوستانه قانون رعایت کړی. په دغه هڅو کی باید له دوی سره د اړیکو ټینگول شامل وی چی هدف یی بشری حقونو ته احترام کول دی. دغه هڅی باید د امنیتی شرایطو او د امنیت د شورا د 1267 لمبر پریکړی د احکامو سره سم عملی شی.